واحد فقیري ۲۰۱۵/۰۱/۱۸

# بالاخره کابینه، او څه نور مسایل

که څه هم د کابینې د تشکیلولو بېځایه ځنډ موجه او منطقي نه وو، او په اخر کې خو کابینه بېخي په یوې سیاسي کومیډي باندي بدله سوې وه. خو د عامه توقع برعکس اعلان سوې کابینه نسبتا ښه او تازه راووتله. په عمومي توګه کابینه ځوانه، تحصیل کرده، او د اداري فساد له تورونو څخه تر ډېره حده پاکه ده. اکثره نوماندان ئې مسلکي او نوي څېرې دي- البته منفي یو و دوه. ځینو ئې پخپلو تېرو کارونو کې ښه نوم او شهرت تر لاسه کړی دی. د مثال په توګه، د هرات پخوانی والي داود صبا په هرات کې د خدمت ښه سابقه لري، او ښایی یوازنی والی وي چي له خپله رسمي مقامه ئې د اصولو په خاطر استعفا کړې وي. دغه راز، شیرمحمد کریمي، پوپل، کاکړ او ځیني نور هم پاکه سابقه، عالي تحصیلات، او د لیډرشیپ او مدیریت کافي تجربه لري.

د نوې نومول سوې کابینې بل ښه والی دا دی چي د تېر حکومت زیاتره بېکاره او فاسد اشخاص په کې نسته، او دا پخپل ذات کې مخ په وړاندي یو ګام دی. ځکه د کرزي صاحب له اکثرو وزیرانو څخه خلاصېدل د افغانستان په خیر دي. که چیري هغوی د کار او خدمت شوق لرلای، په تېرو ۱۳ کالو کې به ئې څه بریښ کړی وای.

په کابینه کې، دریم مثبت ټکی دا دی چي د جهادي مشرانو سنه ختمه بویه. هغوی اکثره زاړه او ناروغه دي. تاریخ ځپلي او تر وخت تېر دي. مګر د کابینې اعلان په قهر کړي دي، او په خپلو سیمو کې ئې د «بچه های مقاومت و مجاهدین» د څرګند حذف پر خلاف کمپین پیل کړی دی. سیاف په کابینه کې د مجاهدینو نه شتون هغوی ته بربنډ «سپکاوی» تلقي کوي. اسماعیل خان ادعا کوي چي له هراتیانو سره ښکاره «جفا» سوې ده. عطا نور هم غورېږي. او د مسعود باقي پاته پروتوکولیان بیا د مظاهرو، جنګ، بغاوت او «به کوه ها بلا می شیم» اخطارونه ور کوي.

البته، کابینه خپل منفي اړخونه هم لري.

د ملي وحدت اکثره نوماند وزیران د متخاصمو او نامتجانسو سیاسي- نظامي ډلو استازي دي. هر نوماند وزیر د یو بل چا د موږي په زور غورځي. د اکثرو وفاداري دوه ګوني او تقسیم ده. دوی مجبوره دي چي په عین زمان کې هم د ریس صاحب خیال وساتي، او هم د خپلو ګوندي مشرانو غوښتني ترسره کړي. مانا دا چي هر یو باید په جمناستیکي حرکاتو کې ماهر او مبتکر وي. په یوه وخت کې د دوو هندوانو د سمبالولو ښه پراکتیس هرومرو باید ولري. اوس نو، که چیري د حکومت او د دوی د ملاترو تر مینځ ټکر راسي، دوی به د چا خوا ونیسي؟

بل پلو، د ریس صاحب او اجراییه ریس ډاکتر صاحب عبدالله په نوماندانو کي ځیني داسي اشخاص سته چي همداوس ئي حساسیتونه راپورته دي. برنا کریمي الان د یو خروار جدي اتهامونو سره مخامخ دی. د ریپوټونو په اساس حیدري د انټرپول سره د مالیاتي جرم په اتهام ثبت دی. په کابینه کي د دانه مانه پرچمیانو شتون هم څه پوس پوس جوړ کړي دی. اسماعیل خان ویلي دي چي په امنیتي سکتور کي د «چپیانو» غالب حضور اندېښمن کړی دی. هغوی اتمر او علومي په نښه کړي دي. علومي د ډاکټر نجیب الله سره په وروستیو ورځو کي په «ناځواني» باندي تورن دی. او اتمر د کمونیستانو په دوران کي ځوان هلک وو، مګر د کرزي صاحب په دوران کي د «بې کفایتی» په موجه تور له وزارته برطرفه سو. هغه په عمومي توګه یو مرموز سړی او د ملي امنیت سلاکار د مقام وړ نه وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په اخر کي، که داسي فرض کړو چي پارلمان د ریس صاحب کابینه سر بسته تصویب کړي، او د والیانو، ریسانو، او نورو عالي رتبه دولتي مامورینو مقررۍ پرته له ډېرو چنو، کشمکش، او ځنډ څخه وسي، بیا به هم د حکومت اصلي ستونزي حل سوي نه وي. ځکه د نوي حکومت اساسي پرابلمونه امنیت، سوله، بده حکوموتوالي، اداري فساد، او خوار اقتصاد دی.

د ریس صاحب نوي دیپلوماتیکي هلي ځلي چي غواړي د ترکیې، چین، او سعودي عربستان له لاري طالبان او پاکستان یو اني اوربند او بالاخره یوې نهایي روغي جوړي ته راوبلي، غوره پالیسي ده. ځکه په منطقه کي د سولي او امنیت راوستلو لپاره ښه فرصت برابر سوی دی. د سولي په پروسه کي د چین فعاله ونډه په کافي اندازه کومک کولای سي. چین کولای سي چي پر پاکستان باندي مثبت فشار واچوي، او د طالبانو سره د یوه بېطرفه مینځګړي په توګه تماس ټینګ کړي. عربستان هم باید د داعش د وحشي قاتلانو مقطعي پرمختګ ښه ډېر وارخطا او ډارولی وي. په پاکستان کي هم باید وروستیو خطرناکو تروریستي پېښو د مذهبي افراطیت په مقابل کي د معقولیت احساس څه غښتلی کړی وي.

په همدي لړ کي، دننه په حکومت کي د ډاکټر عبدالله او د هغه پلویانو ته باید دا توضیح سي چي طالبان د خارجیانو په مټ نه ماتېږي. که دا کار ممکن وای په تېرو ۱۴ کالو کي به سوی وای. یوې دایمي سولي ته د رسېدو یوه واقعي چاره په مدني او سیاسي جامعه کي د طالبانو د ادغام پالیسي ده. ځکه هغوی هم د همدې خاوري بچیان دي، او اوس هم د شمال ایتلاف تر ځینو اشخاصو او زورواکانو بد ندي. بلخوا، حتی امریکا هم اعلان وکړ چي نور طالبان د دښمن په صفت نه پېژني، او تر هغه وخته پوري به حمله ور باندي و نه کړي تر څو لومړی طالبانو پر امریکایانو باندي یرغل نه وي کړی. د شمال ایتلاف مشرانو تل له امریکایانو څخه غوښتل چي طالبان اول ښه ورته وډبوي، لاسونه او پښې ئي ورته وتړلي، او له اخه او توخه ئي ښه ورته واچوي، څو ډاکټر صاحب عبدالله ته د دې موقع برابره سي چي دا ووایي، «حالا از موقف قوي با طالبان ګپ مي زنیم.» خو د متحده ایالاتو همدې نوي دریځ باید د شمال ایتلاف مشران څه پر سد کړي وي، او د سولي په اشد ضرورت پوهه سوي وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ